# د پارتیانو تاریخ

ښېړنپوه دوکتور محمد شریف ځدراڼ

د پارتیانو تاریخ

ښېړنپوه دوکتور محمد شریف ځدراڼ

# History of Parthian

**Author:** Prof.M.Sharif Zadran (PhD)

2023

ISBN 978-9936-661-78-3

9 789936 661783

**د افغانستان اسلامي امارت**

**د علومو اکاډمي**

**د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست**

# د پارتیانو تاریخ

څېړنپوه دوکتور محمد شریف ځدراڼ

**د کتاب ځانګړنې**

**د کتاب نوم:** د پارتیانو تاریخ

**لیکوال:** څېړنپوه دوکتور محمد شریف ځدراڼ

**ایډیټ او اهتمام:** څېړنوال دکتور رفیع الله نیازی

**ډیزاین:** محمد مجتبی همایون

**د چاپ کال:** ۱٤۰۲ ل / ۱۴۴۵ هـ ق

**خپرندوی:** د افغانستان د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**د چاپ ځای:** بهیر مطبعه

ISBN : ۳- ۷۸- ٦٦۱- ۹۹۳٦- ۹۷۸

**د چاپ ټول حقوق له علومو اکاډمي سره خوندي دي**

بسم الله الرحمن الرحيم

## ډالۍ

## د پارتیانو (اشکانیانو) اتل نوم ورکي قوم ته!

# لیکلړ

**سرلیک** **مخګڼه**


سریزه........................................................................ ۱
لومړی ځپرکی ............................................................... ۷
د پارتیانو اصل او نسب ..................................................... ۷
الف – د افغاني مؤرخینو له نظره ....................................... ۷
ب – د ایراني مؤرخینو له نظره ......................................... ۱۹
ج – د ختیځپوهانو له نظره................................................ ۲۵
دویم ځپرکی.................................................................... ۳۱
واک ته د پارتیانو رسېدل ................................................... ۳۱
لومړی اشک ................................................................... ۳۳
دویم اشک ...................................................................... ۳۵
درېیم اشک...................................................................... ۳۷
څلورم اشک (فري پاپت) .................................................... ۳۸
پینځم اشک (لومړی فرهاد) ................................................ ۳۹
شپږم اشک (لومړی مهرداد)................................................ ۳۹
اووم اشک (دویم فرهاد)...................................................... ۴۳
اتم اشک (دویم اردوان) ...................................................... ۴۴
نهم اشک (دویم مهرداد)...................................................... ۴۵
لسم اشک (سنتروک) ......................................................... ۴۷
یوولسم اشک (درېیم فرهاد)................................................. ۴۸
دولسم اشک (درېیم مهرداد) ............................................... ۵۰

دیارلسم اشک (لومړی اُرد) .................................................... ٥١
څوارلسم اشک (څلورم فرهاد)................................................... ٥٤
پینځلسم اشک (فرهادک یا پنځم فرهاد) ...................................... ٥٩
شپاړسم اشک (دویم اُرد) ...................................................... ٦٠
اوولسم اشک (لومړی وُنن).................................................... ٦١
اتلسم اشک (درېیم اُردوان) .................................................... ٦٢
نولسم اشک (واردان یا بَردان)................................................... ٦٣
شلم اشک (گودرز) ............................................................. ٦٤
یوویشتم اشک (دویم ونن)...................................................... ٦٥
دوه ویشتم اشک (لومړی بلاش) ............................................... ٦٥
درویشتم اشک (دویم پاکُر).................................................... ٦٧
څلرویشتم اشک (خسرو)....................................................... ٦٨
پنځه ویشتم اشک (دویم بلاش) ................................................ ٦٨
شپږویشتم اشک (درېیم بلاش) ................................................ ٦٨
اووه ویشتم اشک (څلورم بلاش)................................................ ٧٠
اته ویشتم اشک (پنځم اردوان)................................................. ٧١
درېیم څپرکی ................................................................ ٧٩
د پارتیانو حکومتولي............................................................ ٧٩
الف – اداري جوړښتونه او حکومتولي........................................... ٧٩
ب ـ پوځ ..................................................................... ٩٦
ج – پارتي پلازمېنې (پایتختونه)................................................. ٩٩
څلورم څپرکی ............................................................... ١٠١
د پارتیانو تمدن ............................................................... ١٠١

الف – ښارونه او ښاري ژوند .............................. ۱۰۱
ب – پارتي ژبه او لیک .............................. ۱۱۰
ج – پارتي ادبیات .............................. ۱۲۷
د – د پارتیانو دیني عقاید .............................. ۱۲۹
هـ. په پارتي (اشکاني) ټولنه کې د ټولنیزو طبقاتو وضعیت .............................. ۱۳۵
و – معماري .............................. ۱۳۹
ز – د پارتیا د واکمنۍ اقتصادي وضعیت .............................. ۱۴۲
پینځم څپرکی .............................. ۱۵۱
د پارتیانو بهرنۍ اړیکې .............................. ۱۵۱
الف – د پارتیانو او سلوکیانو تر منځ اړیکې .............................. ۱۵۱
ب ـ د پارتیانو او رومیانو تر منځ اړیکې .............................. ۱۵۶
ج ـ د پارتیانو او سهاکو (ساکانو) اړیکې .............................. ۱۶۷
د – د پارتیانو او کوشانیانو تر منځ اړیکې .............................. ۱۷۵
هـ - د پارتیانو (اشکانیانو) د امپراتورۍ د ماتې لاملونه .............................. ۱۸۰
پایله .............................. ۱۹۰
وړاندیزونه .............................. ۱۹۲
مأخذونه .............................. ۱۹۳

# سریزه

په تاریخي لحاظ پر پارس (اوسني ایران) باندې له میلاد وړاندې د ماد او هخامنشي امپراتوریو او په دریېم قدم کې د پارتیانو امپراتورۍ سلطلنت کړی، چې په دغو امپراتوریو کې د پارتیانو امپراتورۍ له مخکینۍ هرې یوې امپراتورۍ څخه ډېر پر پارس (ایران) حکومت کړی دی. پارتیانو په یوه روایت له ۲۵۰ق.م څخه تر ۲۲۴ میلادي پورې او په بل روایت ۵۰۰ کاله حکومت کړی چې لومړی روایت یې ډېرو مؤرخینو تائید کړی دی.

د پارتیانو قوم چې د پښتنو یوه څانگه ده، د ویدا او اوېستا مدنیتونه یې په بلخ کې تېر کړل او د اوېستا مدنیت په وروستیو کې د آریانا لوېدیزو سیمو ته وکوچېدل، له مرغاب او هلمند څخه تر خزر سمندرگي پورې په دغه لویه آریایي سیمه کې مېشت شول او دغه سیمه یې په خپل نامه (پارتیا) ونوموله.

د پارتیانو د قوم مشر «اشک، ارشک» او په یوناني «ارساس» تر هغه په بلخ کې اوسېده کله چې د سلوکوس نېکاتور یوه جنرال دیودوتس د باختریانو په مرسته د ۲۵٦ق.م په شاوخوا کې د خپلواکۍ اعلان وکړ او د یونان – باختري خپلواک سلطنت بنسټ یې کېښود. اشک له دیودوتس سره د مخالفت په وجه بلخ پرېښود او په پارتیا کې خپل قوم ته ورغی او هلته یې د یوناني حکمران «فرکلس» پر ضد د پارتیا پاڅون بري ته ورساوه او په پارت کې یې د خپلواک حکومت بنسټ کېښود. (۲۵۰ق.م.)

همدا وجه ده چې په تاریخ کې د پارتیانو امپراتوري د هغوی د دولت د بنسټگر اشک په ویاړ د اشکاني په نامه هم یادېږي، نو له همدې امله ما د کتاب په متن کې کله – کله پارتیان (اشکانیان) په دې ډول راوړی او په بل

عبارت، د اشکانیانو سیاسي لړۍ پخپله د پارتیانو له قوم څخه سیاسي ډګر ته راووتله. اشکاني اشک ته منسوب نوم دی او اشک د پارت د قوم او دولت د مشر نوم و.

پارتیا، پارت او پارتیان لرغونی او تاریخي نوم دی. پارسي کوروش (سیروس) په ۵۵۹ق.م کې یوه لویه امپراتوري جوړه کړه او په خپل وخت کې یې د لرغونې آریانا پر نورو سیمو سربېره د پرثوه (پارت) سیمه هم ونیوله او د خپلې امپراتورۍ په قلمرو کې یې شامله کړه. دغه راز لومړی داریوش په ۵۲۲ق.م کې واک ته ورسېد او د نقش رستم او د بیستون په ډبر لیکونو کې یې د لرغوني افغانستان (آریانا) د نورو سیمو تر څنګ د پرثوه (PARTHAVA) د نوم یادونه هم کړې ده. پارتیان (اشکانیان) او سهاک له نورو آریایي او افغاني قومونو سره یو ځای د داریوش په پوځ کې د سکندر پر ضد وجنګېدل او ان د ګوګمل په جګړه کې چې د سکندر او داریوش د پوځونو تر منځ وشوه، د پارتیانو او ساکانو (سهاکو) ځانګړې یادونه په‌کې شوې ده او ان د یوناني مؤرخ آریان په وینا، د سکندر له بري وروسته پارتیان د باختریانو، سغدیانو، آراخوزیانو، زرنګیانو او آریایانو په شمول د مقدوني سکندر په ممتازو لښکرو کې د شخصي امتیازاتو (معاش) په بدل کې شامل شول.

پارتیانو د اشک (ارشک یا ارساس) په مشرۍ د یوه پاڅون په پایله کې د شامي سلوکیانو (سلوسیانو) ۸۱ کلنه واکمني لومړی په پارتیا او بیا په ټول ایران کې له منځه یوړه او یوه لویه امپراتوري یې په سیمه او ایران کې جوړه کړه. خپلې امپراتورۍ او د ایران په دفاع کې یې تر درې پېړیو پورې د روم له امپراتورۍ سره په مېړانه جګړه وکړه او اجازه یې ور نه کړه چې رومیان د

یونانیانو پهٔځېر ایران او سیمې ته راننوځي.

په ایران کې د ځینو سرچینو په حواله ۳۲، خو نیلسون په خپل اثر (تاریخ سیاسي پارث «اشکانیان») کې لیکي چې ۳۹ پارتي (اشکاني) پاچاهانو سلطنت کړی؛ د دوی په قلمرو کې مختلفو قومونو ژوند کاوه او د خپل فرهنګ، ژبې او عقایدو څښتنان وو، پارتي واکمنو له هېڅ قوم، ژبې او عقایدو سره تعصب نه دی ښودلی او په خپل حکومت او قلمرو کې یې د ټولو درنښت کاوه. پارتیانو د خپل سلطنت په دوره کې پرسکو باندې د نورو ژبو تر څنګ پارتي ژبه هم کارولې ده؛ ځکه د دوی د واکمنۍ پر مهال پارتي ژبه رسمي او دولتي ژبه وه. د زردشت کتاب «اوېستا» چې د مقدوني سکندر د لښکرکشۍ په بهیر کې د یې زیاتره برخه سوځول شوې وه، د پارتي پاچا، بلاش په لارښوونه بیا له سره راغونډ شو.

پارتي واکمنو د ورېښمو د لارې واک او کنټرول په خپل لاس کې واخیست او د ښې سوداګرۍ په خاطر یې په ډاډمنه توګه د دې لارې ساتنه کوله، ځکه دغه لار د دوی لپاره د ډېرو عوایدو منبع ګڼل کېده. پر دې لار د لوېدیځ او ختیځ تر منځ د سوداګرو کاروانونه تلل او راتلل او د هېوادونو تر منځ د اړیکو ښه وسیله وه.

پارتي (اشکاني) دولت په ۸٦ میلادي کې د چین شاهنشاه سفیر ته، چې ووتي (WUTI) نومېده، په ایران کې ګرم هرکلی وکړ چې له نوموړي سفیر سره شل زره کسان ملګري وو. په مقابل کې پارتي شاهنشاه هم خپل سفیر د چین دربار ته واستاوه. پر ۹۷ میلادي کال د دویم ځل لپاره د چین سفیر ایران ته راغی او په مقابل کې د پارتي پاچا، پاکورس سفیر چین ته ولاړ.

مؤرخین په دې عقیده دي چې د شامي سلوسیانو (سلوکیانو) له ماتې وروسته پارتي دولت د روم د دولت یو خورا مهم سیال وګرځېد او په عین وخت کې یې له رومي امپراتورۍ او چین سره سیاسي او اقتصادي اړیکې هم پاللې. رومیان په ۹۲ق.م کې د پارتي امپراتورۍ پر نړیوال اهمیت باندې پوه شول او ویې غوښتل چې له پارتي دولت سره خپلې اړیکې ټینګې او پیاوړې کړي، چې له خنډونو پرته سوداګري وشي. هماغه و چې پارتي پاچا میتریدات (مهرداد) د روم دولت د دې غوښتنې په ځواب کې خپل سفیر روم ته واستاوه.

که څه هم د پارتیانو د حکومت طرز مطلقه و؛ خو سره له دې هم د حکومت په اداره کې دوو شوراګانو فعالیت کاوه:

۱- د سلطنتي کورنۍ د مشرانو شورا: په دې شورا کې د اشکانیانو (پارتیانو) د سلطنتي کورنۍ د غړو په شمول د نورو شپږو بانفوذه او په حکومت کې د شریکو کورنیو مشرانو غړیتوب درلود.

۲- د مذهبي روحانیونو او مشرانو شورا: د دې شورا واک او نفوذ د لومړۍ شورا په نسبت کم و، خو دغو دواړو جرګو په متفق ډول د اشکانیانو له لړۍ څخه یو کس د سلطنت لپاره ټاکه. د اشکانیانو دولتي جوړښت متمرکز نه وو؛ ځکه له یوناني سلوکیانو په میراث یو غیر متمرکز دولت ورته پاتې و.

خو بې له شکه پارتي حکومت وکولای شول چې د څه کم پنځه پېړیو په بهیر کې په ډېرې ځواکمنتیا سره حکومت وکړي او درې پېړۍ یې د رومیانو پر وړاندې مقاومت او جګړې وکړې او هغوی یې پرېښودل چې ایران ته ننوځي. پخپله رومیان دا واقعیت تائیدوي چې په آسیا کې د یوې لویې امپراتورۍ سیاسي، اقتصادي، فرهنګي او اداري چارې د پارتیانو پر غاړه وې او په ښه

شان یې رهبري کړې. ځینې مؤرخین هم په دې عقیده دي چې پارتیانو نه یوازې د یونانیانو، رومیانو او د شمال او ختیځ کوچي قبایلو پر وړاندې مقاومت وکړ، بلکې ایران یې له دغو یرغلگرو ځواکونو وژغوره او د ایران له لرغوني تمدن څخه یې بریالۍ دفاع وکړه او دا د نړۍ په وړاندې لوی خدمت و.

که څه هم د ساسانیانو بنسټگر ارد شېر بابکان په ۲۲۴ میلادي کې د پارتیانو واکمني ونړوله او د پارتیا د خاورې او تاریخي هویت د ورکولو لپاره یې هڅې وکړې. د بېلگې په توگه: د پارتیا نوم یې په خراسان بدل کړ او د دوی د وخت بېلابېلې تمدني او فرهنگي لاسته راوړنې یې له خاورو سره خاورې کړې، خو له نېکه‌مرغه چې یونانیان او رومیان له پارتیانو سره له بېلابېلو لارو په اړیکه کې وو، د دوی د تاریخ او ملي هویت په اړه یې ډېرې علمي څېړنې په میراث پرېښې دي چې په را وروسته زمانو کې ختیځپوهانو د هغوی پر بنسټ څېړنې کړې او د دوی تاریخ او کار نامې یې تر ډېرې کچې روښانه کړې دي.

پارتي پاچاهانو چې څه کم ۵۰۰ کاله د ایران ملت او تمدن د ایران په لوېدیځ کې د یوناني سلوسیانو (سلوکیانو) او د روم د امپراتورانو د یرغل او تېریو پر وړاندې، په ختیځ او شمال کې د سیتیانو، الانیانو او نورو صحرایي قومونو د تېریو او بریدونو په وړاندې په مېړانه وساتل او د جگړو په بېلابېلو ډگرونو کې یې د پارتیانو د حاکمیت، له ځمکني تمامیت، سیاسي، اقتصادي او فرهنگي ارزښتونو، ملي گټو او خپلواکۍ څخه بشپړه دفاع وکړه چې بې له شکه د پارتي ایران په تاریخ کې یې ستر تمدني اهمیت درلود او له همدې امله لازم لیدل کېږي، چې د علم، تمدن، د بشر د برخلیک او تاریخ مینه‌وال پراخې او هر اړخیزې علمي څېړنې د پارتیانو په اړه وکړي، تر څو د پښتنو د

دې نوم ورکې ځانګې تاریخ او سترې کارنامې روښانه شي. باید ووایم چې دا څېړنه په همدې موخه ترسره شوې ده.

د سریزې په پای کې باید ووایم چې دا اثر د یوې سریزې، پینځو څپرکو، پایلې، وړاندیزونو او د ببلوګرافۍ په اډانه کې ترتیب، تنظیم او بشپړ شوی دی.

د دې اثر په لیکنه کې له تاریخي، تحلیلي، توصیفي او انتقادي میتود څخه کار اخیستل شوی او ټول اکاډمیک او علمي اصول پکې رعایت شوي دي.

د موضوع موخه، بې له شکه د پارتیانو د تاریخ لیکنه او روښانول دي. په اثر کې د دوی اصل او نسب، واک ته رسېدل، حکومتولي، تمدن او بهرنۍ اړیکې او د دوی د ناکامیو او را پرځېدو لاملونه څېړل شوي دي.

په درنښت